# د پښتو لیک دود ارتقاء

پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم

رسم الخط یا لیک دود د لیکلو طریقې یا انداز ته وائي. املا د لیک دود مطابق صحیح لیکلو ته وائي، تر څو چې د یوې ژبې متفقه لیک دود نۀ وي تر هغه وخته د صحیح املا لیکلو تصور هم نۀ شي کېدے.

رسم الخط د ادب د پرمختګ دپاره یوه اهمه غوښتنه ده. ژبه ، ادب او رسم الخط په خپلو کښې ژورې رشتې لري. دا درې واړه توکي د یو زنځیر بېلې بېلې کړۍ دي. په دې کښې د هرې کړۍ خرابي ددغه زنځیر د خرابېدو باعث ګرځي.

له بده مرغه د پښتو ادب د ابتدا غوندې زمونږ د رسم الخط د ابتدا تاریخ هم متنازعه دے. زمونږ د ژبې څنو عالمانو د پښتو رسم الخط او الف بې د ابتدا په حقله د خیال بې سنده نیلي زغلولي دي. چا د پښتو الف بې (حروف تهجي) رشته د پالي ژبې یا رسم الخط سره تړلې ده او چا د خروشتي (باختري) او آرامي سره. خو په دغه سلسله کښې قوي دلائل نشته ځکه مونږ مجبور یُو چې د پښتو ادب د ابتدا په شان د پښتو د لیک دود ابتدا هم د اسلام دې خاورې ته د راتلو نه پس تسلیم کړو او دا حقیقت ومنو چې د پښتو حروف تهجي د عربۍ نه اخستي شوي دي او د پښتو لیک دود د اسلام د راتلو نه پس شروع شوے دے. یو روایت دا هم دے چې پښتو رسم الخط سره د پښتو د مخصوصو توریو د سلطان محمود غزنوي یو وزیر احمد بن حسن مېوندي قاضي سیف الله ته د پښتو د توریو جوړولو ترغیب ورکړے ؤ. قاضي سیف الله د فارسۍ، هندۍ او سندۍ حروف تهجي په مدد د پښتو غړونو دپاره حرفونه ایجاد کړل. مګر د مستندو دلائلو په عدم موجودګۍ کښې دا قیاس هیڅ ځائے نۀ نیسي او د تحقیق د سائنسي اصولو سره سمون نۀ خوري. یو بل روایت په دې لړ کښې دا دے چې د پښتو لیک دود دپاره د سلطان محمود غزنوي په دور کښې د پښتو حروف تهجي شیخ ابوالفتح جوړ کړي وو. د دغو روایتونو د انداز نه معلومېږي چې د پښتو حروف تهجي د وړاندې نه موجود وو. د سلطان محمود غزنوي په زمانه کښې پکښې صرف اصلاحات شوي وو. د دې روایتونو د استناد دپاره

رسم الخط د ادب د پرمختګ دپاره یوه اهمه غوښتنه ده. ژبه ، ادب او رسم الخط په خپلو کښې ژورې رشتې لري. دا درې واړه توکي د یو زنځیر بېلې بېلې کړۍ دي. په دې کښې د هرې کړۍ خرابي ددغه زنځیر د خرابېدو باعث ګرځي.

هم چونکې د ښېړنې د اصولو سره سم دلائل نشته ځکه ورسره دومره په اسانه اتفاق نهٔ شي کېدے.

د لیک دود د معلوم تاریخ تر مخه بایزید انصاري (پیر روښان) هغه وړومبے سړےدے چې د پښتو رسم الخط دپاره ئې حروف تهجي ایجاد کړل. هغه په خېرالبیان کښې وائي " او بایزید، وکښه هغه حرفونه چې په هره ژبه سازېږي د فائدې دپاره د آدمیان، تهٔ دانا ئې له هره څیزه، ما نهٔ زده ښېرون حرفونو د قرآن، او سبحان، او بایزید د حرفونو کښل په تادي د حرفونو څرګندول و نمون وښودل په مادي. وکښه زما په فرمان په مانند د حرفونو د قرآن او کېږده په ځنې حرفونو ټکي یا غړوندي یا نورې نښانې بې له حرفونو، ژر به وپېژني آدمیان. ځنې حرفونه څلور څلور وکښه عیان، ژر به ئې زده کا چې ئې لولي، ساه ورسره باسي له دوه وستري حرفو سره آدمیان•".

د خېر البیان د دې اقتباس نه معلومېږي چې د پښتو د حروف تهجي دپاره پیر روښان ته د الله پاک له اړخه خاص هدایات ورکړے شوي وو، هغهٔ ته وئیلے شوي وو چې حرفونه به د حروفونو دپاسه نهٔ اچوي، د پیر روښان مرید او د پښتو ژبې مشهور شاعر دولت لواڼي وائي:

افغاني لفظ مشکل وۀ لوست کوښں نهٔ شهٔ
ورته وشول کننده دیارلس حرفونه

د دولت لواڼي په بره ورکړي شوي شعر کښې " دیارلس حرفونه" هغه ټکو ته اشاره ده، چې په عربئ کښې نشته خو په پښتو، فارسئ او هندئ کښې استعمالېږي. په دې کښې پنځهٔ حرفونه یعنې (ځ، څ، ړ، ښ، ڼ) د پښتو مخصوص توري دي او په بله یوه ژبه کښې هم دا توري نشته. درې حرفونه یعنې (ټ، ړ، ډ) فارسئ کښې نشته خو پښتو او ځنو نورو ژبو کښې شته. څلور حرفونه یعنې (پ، چ، ژ، ګ) فارسئ او پښتو دواړو کښې استعمالېږي. دا ټول دولس حرفونه جوړېږي، په خېرالبیان کښې د "ګ" توري د نامعلومو وجوهاتو له لحاظه د پښتو په حروف تهجي کښې دوه واره شمار شوے دے. کهٔ مونږ د دولت لواڼي په ذکر شویو دیارلسو حرفونو کښې د "ګ" تورے دوه واره حساب کړو نو بیا د هغهٔ د ذکر شویو حرفونو شمېر صحیح راوځي او د هغهٔ دعوې رښتیا ثابتېږي او کهٔ د "ګ" تورے یو وار وشمارو نو بیا د دولت لواڼي په شعر کښې ذکر شوے دیارلس لفظ دکتابت غلطي ښکاري او صحیح لفظ "دولس" پکار دے. د دولت لواڼي د شعر او د پیر روښان د بیان نه معلومېږي چې د پښتو دپاره حروف تهجي پیر روښان ایجاد کړي وو.

پیر روښان د موجوده وختونو، د "ځ" دپاره د دال د لاندې نقطه ورکړې ده. د "ژ (ږ)" دپاره ئې د دال په مینځ کښې نقطه ورکړې ده.

د پښتو د حروف تهجي ټول شمېر **40** دے. په دې کښې **28** د عربئ دي، څلور د پښتو او فارسئ شریک توري دي، یعنې (پ، چ، ژ، ګ، اتهٔ د پښتو دي، یعنې (ځ، څ، ړ، ښ،ڼ او (ټ، ډ، ړ) (ټ، ډ، ړ ځنو نورو ژبو کښې مستعمل دي.)

په روښاني لیکنو کښې د "س" تورے په ځنو ځایونو کښې "پس" راغلے دے د ګاف توري دپاره ئې د عربئ د "ک" مرکز (کش) ته یوه کرښه وراچولې ده یعنې "ګ) خوشحال خان خټک او د هغهٔ د کورنئ

•- د خېر البیان تنقیدي مطالعه، د قلندر مومند، ص2.

نورو غړو د "ګ" په سلسله کښې د خېرالبيان او نورو روښاني تحريرونو پيروي کړې ده.

اخون درويزه بابا په خپلو ليکنو کښې د "ګاف" د توري درې شکلونه اختيار کړي دي. يو قسم ئې د خېرالبيان او نورو روښاني ليکنو په پيروۍ کښې "ګ" استعمال کړے دے. بل قسم کښې ئې د عربي کاف (ک) د مرکز سر راتاؤ کړے دے دريم قسم ئې د ګاف دپاره عربي کاف "ک" اختيار کړے دے.

د ږ تورے خېرالبيان او نورو روښاني ليکنو کښې د "ژ" دپاره استعمال شوے دے. کله کله د ږ په ځائے "ژ" تورے هم اختيار شوے دے.

ټ، ډ، ړ، ڼ خېرالبيان کښې د موجوده شکلونو مطابق ليکلي شوي دي.

خوشحال بابا د (ټ) دپاره د (ط) لاندې همزه، د (ډ) دپاره د (د) لاندې همزه، د (ړ) دپاره د (ر) لاندې همزه، د(ڼ) دپاره د (ن) لاندې همزه اچولے دے. د هغۀ د کورنۍ نورو غړو هم د هغۀ پيروي کړې ده. د "ڼ" توري دپاره کله کله خوشحال بابا او د هغۀ پيروکارانو "نړ" هم ليکلے دے، اخون درويزه بابا ڼ او نړ دواړه اختيار کړي دي.

خوشحال بابا او د هغۀ د کورنۍ نورو اديبانو شاعرانو د ځ دپاره د (ج) لاندې همزه د څ دپاره (چ) لاندې همزه، د (ښ) دپاره (ش) او د (ږ) دپاره "ژ" توري استعمال کړي دي.

اخون درويزه بابا د ځ او څ دواړو غږونو دپاره يو حرف "څ" استعمال کړے دے.

مرحوم عبدالشکور رشاد وائي چې د "ځ" توري دا موجوده شکل د وزير محمد ګل خان مومند ايجاد دے•

خېرالبيان کښې د "ه" (حرف علت) دپاره زبر استعمال شوے دے. مګر کله کله د "ه" استعمال هم شوے دے. خصوصاً د حروف تهجي د تشريح په سلسله کښې پير روښان "ه" استعمال کړې ده. مثلاً ب بابا به، ټ ټاټا ټه، ث ثاثا ثه، يعنې هر حرف څلور واره وئيل.

خوشحال بابا د يائي مخصوص او يائي مجهول دپاره "ء" هم راوړے دے او زبر او ئې هم.

د خوشحال بابا د کتابونو په قلمي نسخو کښې د مد واضح استعمال شوے دے.

د واؤ معدوله ( هغه واؤ چې په ليکلو کښې راځي خو په خلۀ نۀ ادا کېږي) په ځائے خوشحال بابا اکثرو ځايونو کښې د "ُ" پېش حرکت نه کار اخستے دے. مثلاً ګُرت، کُرت، خُشې، پرکُټ، کُلمې وغېره.

هسې هم د پښتو په خپلو لفظونو کښې داسې واؤ (و) نشته چې په خله نۀ ادا کېږي. البته په هغه لفظونو کښې ئې وجود شته چې پښتو ته د نورو ژبو نه او خصوصاً د فارسۍ نه راغلي دي.

د واؤ معدوله نه علاوه د واؤ معروف او واؤ مجهول په لړ کښې هم د پښتو ژبې د عالمانو ترمېنځه په مختلفو وختونو کښې بحثونه شوي دي او په دې خبره اتفاق شوے دے چې د دې دواړو واوونو ترمېنځه د فرق کولو په خاطر په واؤ معروف پېش (ضمه) اچول پکار دي.

د پښتو رسم الخط او املا په لړ کښې د پښتو ژبې او ادب خواخوږو عالمانو او دانشورانو وخت په وخت هلې ځلې کړي دي. د دې سيمې عالمانو په مختلفو وختونو کښې پښتو املا کښې د يو شان والي پېدا کولو په خاطر خپل ګاونډي ملک افغانستان ته او د افغانستان عالمانو پېښور ته

• عبدالشکور رشاد مقاله (مقدمه) خېرالبيان کابل چاپ، ص74.

دوري کړې دي او تر خپله وسه ئې په دې سلسله کښې د راپېښو مشکلاتو د حل کولو دپاره زيار کړے دے.

دې سلسله کښې د پښتو اکېډيمۍ پېښور له اړخه هم په باړه ګلۍ کښې په کال **1991** کښې يو کامياب سيمينار شوے ؤ. په دغه سيمينار کښې د ډېرو حل طلب مشکلاتو د حل راوېستو کوششونه شوي وو. دغه سيمينار کښې چې کومې فېصلې شوې وې هغه پښتو اکېډمۍ د کتابچو په شکل کښې چاپ کړې دي.

مرحوم قلندر مومند د يو مخصوص غږ دپاره د "هـ" د متعارف کولو هڅه کړې وه خو د عالمانو اکثريت ورسره اتفاق ونۀ کړۀ او اګر چې د هغوي متعارفه کړې "هـ" په متفقه ډول رواج ونۀ موندۀ خو د قنلدر مومند مخلص شاګردان او پېروکاران اوس هم په خپلو ليکونو کښې د يو مخصوص غږ دپاره "هـ" استعمالوي هم او تبليغ ئې هم کوي.

د باړه ګلۍ په سيمينار کښې د ياګانو ترمېنځه په فرق هم بحث شوے ؤ او د يائې مخصوص په لړ کښې کُوټلې فېصلې شوې وې.

صحيح املا د يوې ژبې د علمي ضرورت سره سره قومي او سياسي ضرورت هم وي. متفقه املا قومي اتفاق ته لار هواروي. په دې سلسله کښې د مختلفو لهجو ويونکيو ترمېنځه افهام او تفهيم ضروري دے. د پښتنو د هرې قبيلې غړي بايد د بلې قبيلې د غړيو په لهجه ځان پوهـ کړي. په داسې کولو به د املا په مشکلاتو کښې ډېر کمے راشي. ځنې خلق په دې ضد ټينګ ولاړ وي چې مونږ چې ټکي ښنګه وايو هم هغه شان به ئې ليکو، دا يوګمراه کن دليل دے. پکار ده چې مونږ ټکي هغه شان وليکو ښنګه ئې چې د پښتنو اکثريت وائي. دې لړ کښې به د هرې قبيلې سره تعلق لرونکي لړه ډېره قرباني ورکوي.

يوه بله ضروري خبره دا ده چې د املا په سلسله کښې منعقد کېدونکې هره غونډه کښې د علميت سره سره د مختلفو لهجو د نمائندګۍ په بنياد شرکت پکار دے. د ټولو نه وړومبے د ټکو په تلفظ پوهېدل پکار دي. تر څو چې د تلفظ په حقله د رائې اتفاق نۀ وي، تر هغه وخته د صحيح املا ليکلو تصور نۀ شي کېدے. د ټکو په هيئت کښې د بدلون راوستو اختيار هېڅوک نۀ لري. د داسې کولو دپاره قومي اتفاق رائې ضروري ده.

## کتابيات:


1. اخون درويزه "مخزن" (مقدمه ميا تقويم الحق کاکاخېل) پښتو اکېډمي پېښور، **1969**.
2. بايزيد انصاري، "خيرالبيان" (مرتب حافظ محمد عبدالقدوس، دوېم اشاعت) پښتو اکېډمي پېښور، **1988**ء.
3. بايزيد انصاري، "خيرالبيان" (فوټو سټېټ چاپ) کابل يونيورسټي کابل، **1975**.
4. ډاکټر راج ولي شاه خټک، "د پښتو نوې املا" پښتو اکېډمي پېښور، **1991**.
5. خوشحال خان خټک، "دستارنامه" (مرتب ډاکټر يار محمد مغموم) **2007**ء.
6. دولت لواني، "د دولت لواني ديوان" مرتب پروفېسر عبدالشکور رشاد، پښتو اکېډمي کابل، **1975**.

7. قلندر مومند، "د خېرالبيان تنقيدي مطالعه" د
چاپ ځائے پېښور، **1988**.